
SESAME STREET
سسمي ښه راغلاست
د ښېګړې دايره

هادي په باغچه کې ګلان راشکول چې سجاد يې ولید
په تېزۍ سره د هغه لور ته منډې وهي. داسې برېښېده
چې هغه کومه مهمه خبره لري.

سجاد وويل: «هادي! غواړم له تا سره خبرې وکړم»





هادي د ګلانو ټوکرۍ په ځمکه کېښوده او ويې ويل:
«ښکاره خبره ده، زه ستا ملګری یم، کولای شې هر وخت ما
سره خبرې وکړې او زه به تاته په پوره پاملرنې غوږ شم.
سجاد سوړ اسویلی وکړ او ويې ويل «نه پوهېږم له کومه يې
پيل کړم».

«زما ملګری یو سایره مارغه دی، د ښه راغلاست سمسم پر سر یې الوت کاوه، هغه ماته هغه ناوړه خبرې وکړې چې هغه او ملګري یې ورسره مخ شوي دي».
هادي سجاد ته ورنژدې شو او ویې ویل: «سجاده! هغه څه راته وایې چې تا اوریدلي؟»





سجاد وویل: «ماته سایره مارغه وویل چې د دوی کلي ته یو نابلده مارغه راغلی او نورو مارغانو ته زیان رسوي.
دې خبرې زه خفه کړم او له هغه مې وپوښتل:
ولې یو څوک داسې ناوړه کار کوي؟»
هادي وویل: «هو، زه هم له دې خبر شوی یم، زه هم د خپلو ملګرو مارغانو حالت غوصه او خفه کړی یم».



سجاد وپوښتل: «خو موږ باید څه وکړو، تر څو د خپلو ملګرو مارغانو
مرسته وکړو؟ دوی به خامخا سخت اندېښمن او خفه وي».
هادي وويل: «ایا ته پوهېږې چې موږ باید څه وکړو؟
موږ کولای شو د ښېګړې دابرې ته ولاړ شو».

هادي زياته کړه: «کله چې ناوړه پېښې منځ ته راځي، نو ملګري د مرستې په لارو چارو فکر کوي او په دې توګه زموږ ملګري مارغان پوهېږي چې موږ د هغوی حالت ته پاملرنه کوو او په اړه يې فکرمند يو، بيا به د ښېګړې په دايره کې سره راټولېږو».



سجاد وویل: «ستا نظر مې خوښ شو».
هادي وویل: «له همدې امله نن له خوبه وختي راپاڅېدم، تر
څو ګلان راټول او د ښېګړې دایرې ته یې یوسم.
خوښه دې نه ده چې د ښېګړې دایرې ته د تګ پر لاره د نورو
ښېګړو د لټون په موخه له ما سره ولاړ شې؟»





کله چې دواړه په شریکه روان او د لا زیاتې ښېګړې لټون یې کاوه، دوی پلورونکی (راضي) ولید، هغه په یوه غټه ټوکرۍ کې ډالۍ اېښودې او په ښکلو تارونو یې ښایسته کولې.

راضي وویل: «دواړه ښه راغلاست، په دې ټوکرۍ کې مې کیکونه ایښي، له داسې غلو دانو مې جوړ کړي چې د مارغانو خوښ دي. دا به خپلو ملګرو مارغانو او د هغوی کورنیو ته یوسم، څکه هغوی اوس خفه او اندېښمن دي».



راضي زياته کړه: «دا ډالۍ به د هغوی هر يو لپاره ډېره ارزښتمنه وي.

سجاد چغه کړه: راضي! دا ستاسې ډېره مهرباني ده چې دا ډالۍ مو چمتو کړې».

بيا سجاد له ځانه سره وويل: «راضي له هغو خلکو يو دی چې ښېګړه کوي».



په پراخه میدان کې بسیمه، المو او کبکي په څمکه کېناستل،
کارتونه یې سینګارول او په ښایسته رنګونو یې رنګول.
سجاد وویل: «ښه راغلاست ملګرو، څه کوئ؟»
بسیمه وویل: «موږ ښایسته کارتونه جوړوو چې خپلو ملګرو
مارغانو ته یې واستوو، کوم چې له سختو حالاتو سره مخ دي».

کبکي وويل: غواړو زموږ ملګري وپوهېږي چې موږ د هغوی په اړه فکرمند يو».

المو وويل: هو المو د خپلو ملګرو په اړه فکر کوي، موږ ټول د خپلو ملګرو په اړه فکر مند يو».

سجاد يو ځل بيا له ځانه سره وويل-: کبکيبسيمه، کبکي او المو د هغو خلکو له ډلې دي چې ښېګړه کوي».





سجاد او هادي مخکې ولاړل، تر څو د تیتانور کور ته ورسېدل.
تیتانور له خپلې کړکۍ بهر کتل او په ښکلي غږ یې سندرې ویلې.
تیتانور وویل: «ښه راغلاست زړه ته راتېرو ملګرو، زما
سندرې مو خوښې شوې؟ دا مې خپلو ملګرو مارغانو ته
لیکلې ده او نن به یې ټول د ښېګړې په داېره کې ووایو».



سجاد وویل: «زما خوښې شوې، زه به یې هم زده کړم چې
د ښېګړې په دایره کې یې ووایم».
تیتانور وویل: «دا ستا مهرباني ده سجاده».
هادي وویل: «کله چې نور مارغان دا سندره واوري، هغوی به
هم راشي او موږ ټول به یې یو ځای ووایو».
سجاد په زړه کې وویل: «تیتانور هم د هغو خلکو له ډلې
ده چې ښېګړه کوي».

گرګور وویل: ما له خپلو ملګرو سره په شریکه په دې چشمه
کې د ګلانو او چنچڼو انځورونه جوړ کړي چې دلته د اوبو
د څنګ لپاره راتلونکي مارغان یې وویني.
ملګري د اوبو د چشمې په شا او خوا راټول شول.



هادي وويل: له تاسې مننه چې د ښېګړې په دايره کې سره راټول شوئ، بيا يې مارغانو ته ګلان ورکړل.
راضي کيکونه وړاندې کړل او بيا ټولو له تيتانور سره سندره وويله.
بسيمه او ملګرو يې په مارغانو کارتونه ووېشل.

سجاد وويل: زه اوس پوه شوم، ان که ناوړه پېښې هم منځ ته راشي، مور کولای شو ښېګړه ومومو او نورو ته يې وړاندې کړو.
هادي وويل: رښتيا دي وويل سجاده، که چېرې مور هر يو ډېره کمه ښېګړه وړاندې کړو، نو ډېره ښېګړه ځينې جوړېږي.



# د ښېګڼې دايره

په هغه کلي کې ناوړه پېښه شوې، چېرته چې د سجاد ملګري مارغان ژوند کوي. سجاد او هادي د هغو لارو چارو په اړه يو له بل پوښتنې کوي، په کومو چې دوی کولای شي له مارغانو سره مرسته وکړي، هادي وړانديز کوي چې بايد د ښېګړې له دايرې سره يو ځای شي. هادي هغه ته روښانه کوي چې کله ناوړه پېښې منځ ته راشي، نو ملګري د مرستې بېلا بېلې لارې مومي، مرسته کوي او د پاملرنې لپاره لاس په کار کېږي.

## پر لوستلو د پوهاوي پوښتنې

**له لوستلو مخکې** (**هغوی ته د کتاب پوښ وښيه**)

١. په دې کتاب کې د کومې کيسې د شتون هيله لرې؟

**د لوستلو پر مهال** (**د۶ پاڼې پای**)

٢. د کومو کارونو په مټ ته کولای شې له خپلو هغو ملګرو سره مرسته وکړې چې له ستونزمنو حالاتو سره مخ وي؟ (د کوچنيانو له خوا د بېلګو له ورکولو وروسته) دا په زړه پورې نظريات دي، راځئ وګورو چې سجاد او هادي د مارغانو سره د مرستې لپاره د کومو کارونو کولو پرېکړه کړې.

**له لوستلو وروسته**

٣. د ځينو هغو کارونو يادونه وکړه چې دې ملګرو د خپلو هغو ملګرو سره د مرستې لپاره وکړل چې له ستونزمنو حالاتو سره مخ دي.

٤. د کيسې په پای کې ټولو څه ډول احساسات درلودل؟

SESAME STREET

سسمی ښه راغلاست

د اهلان سمسم ډيزاين عناصر، اړونده کرکټرونه او سوداګريزې نښې د سسمی ورکشاپ ملکيت او دوی لخوا جواز لري. Sesame Workshop [2020] © ټول حقونه خوندي دي.